




فريد احمد « تسکين »
د نشر نيټه : ۱۸ نوامبر ۲۰۱۲م

# غـــزل

څه مي ګنا وه چې زما د زړګي زور دې واخيست
لکه چنار د خپل ښايست له اوره اور دې واخيست
د ميني پانګه به دې بل چيرې پکار کړې وه
راغلې په ټول ښار کې زما د زړګي کور دې واخيست
خدای ج دې برغولی کړه بيلتونه د سرکي تناره
زما نظر زما د دواړو سترګو تور دې واخيست
زما غزل چې سندريز شي نو مستي پيدا کړي
داسې دې شرنګ پيدا کړ ياره داسې شور دې واخيست
د خدای ج نيک بخته څومره لوی بار ته اوره دې ورکړه
په کرکه څېلو کي زما په تهمت تور دې واخيست
هله ور غبرګ کړه ساقي جان ته چې تسکين شی يخ شي
د زړه په ډېره باندې غرونه غرونه اور دې واخيست
۲۲/۸/۱۳۹۱
ژوند اف ام راډيو ــ پکتيا

## د رفيق مهران، فريد احمد تسکين او هجران احمدزي طرحي مشاعره

د چا له لاسه بلې دي لمبې په ګل غوندی؟
ګلابه اوس خو نه کيږې ميلی په ګل غوندی
مهران
له زنې يې تاو شوي رقيبان لکه اغزي
ولاړې وي زړګيه تل پيرې په ګل غوندی
تسکين
دې ورانو اوربلوته ځان سره راوړه ګلاب
بهاره چې ته کله هم راځې په ګل غوندې

هجران
الله ته خوترۍ پاتې مه کړې دلته بدرنګې
تېرېږې د بدرنګو قافلې په ګل غوندۍ
مهران
راځه چې سره کينو درپيم ګړي ته اشنا
بې ځايه جوړوې ولې مورچې په ګل غوندۍ؟
تسکين
ښکاره وايم چې نه را پخلا کيږي مرور
په تاپسې به وکړمه نارې په ګل غوندۍ
هجران
قربان دې له اوازه شمه ته لکه بلبل
جاوېده راته ووايه ټپې په ګل غوندۍ
مهران
ځائيو سندريزه سيمه بيا بندار اخيستې
غورځې وهې،چکچکې دې چمبې په ګل غوندۍ
تسکين
اباده دې وي تل دغه د حسن سر چينه
ته جوړې مه کړې خدايه ج هديرې په ګل غوندۍ
هجران
د مينې انقلاب ته اوس پکتيا لري اړتيا
راځئ چې سره جوړې کړو جرګې په ګل غوندۍ
مهران
قسم دی د بل ښار خوندونه ټول شي درنه هېر
که و دې کړې هجرانه يو څو شپې په ګل غوندۍ
هجران
زما د ليونې جانان د سترګو په خاطر
دا روح به عزرايله رانه وړې په ګل غوندۍ
مهران
دا پورې ګلدرو کړې لمبې لمبې جامې
که پرک وهې تسکينه لوپټې په ګل غوندۍ
تسکين
بس چېرته به يې کړمه په نازونو زمزمه
مهران دې جوړې کړې ترانې په ګل غوندۍ
مهران
پکتيا ميډيا سنټر د شپې لس نيمې بجې

* ګل غوندۍ د جاوېد امرخيل د خاپوروځای دی چې د پکتيا د اريوب ځائيو يوه تاريخي سيمه ګڼل کيږي.

www.said-afghani.org– بازگشت به صفحه اصلی